تُعَبِّي الذَّنْبَ وَالذَّمَ *** وَتُخْطِي الخَطَأَ الجَمَ

# (اصلاح اهل حدیث)

# د اهل حدیثو

# اصلاح

مولف:

محدث عصر سید بدیع الدین شاه الراشدی رحمه الله

عامر حسن البشاوري

الناشر

المكتبة الرشيدية نزد الجامعة المحمدية

Mob: 0313 - 8638522 یوسف آباد پشاور

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم الله الرحمن الرحيم

**الحمدلله والصلاة والسلام على محمد بن عبدالله وعلى اله وصحبه ومن والاه أما بعد:**

**هغه د مسنون خطبې نه پس وفرمايل:**ماته حکم شوی چې د اهل حديثو د اصلاح متعلق خپل خيالات تاسو سره شريک کړم،د حيرانتيا خبره داده چې اهل حديث هم د اصلاح محتاج وگرځيدل،الله ـ تعالی ـ د مصلح(اصلاح کونکي انسان) دوه صفات بيان کړي دي،يو دا چې هغه به د الله د پيغمبر په طريقه مونځ قايموي،ځکه عبادت هغه قبول دی چې د هغه د طريقې مطابق وي،که دا نه وي نو يهود،هندوان او عيسايان هم د الله عبادت کوي،حالانکه ددوی عبادت د الله په نزد قبول ندی،د مصلح دويم صفت دادی چې د الله تعالی د طرفه د وحي تابعداري به کوي،او وحي قران او حديث ته وايي،نو معلومه شوه چې مصلح هغه څوک دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونځ قایموي او ټول معاملات د وحي د قانون مطابق حل کوي،او بل هیڅ مستدل یې نه وي چې استدلال ترې وکړي،پدې وجه دا تعریف صرف په اهل حدیثو باندې صادقیږي،نو هر اهل حدیث مصلح دی،البته دا خبره چې ددوی هم اصلاح ته ضرورت دی،دا یوه عجیبه خبره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جهاد نه د غافله کیدو په وجه په مونږ کې ټول نقصانات پیدا شول:

اگر چې د عمل په لحاظ سره مونږ کمزوري یو،ډیر نقصانات راپکښې موجود دي،لیکن د قران او حدیث په تابعدارۍ کې د هر چا څخه ممتاز یو الحمدلله،د یو شي د پریخودو په وجه په مونږ کې بیا ډیر نقصانات پیدا شوي دي، چې هغه د الله په لاره کې جهاد کول دي،دا د اهل حدیثو علامت وو،دا زمونږ بنیاد وو،لیکن مونږ ترک کړ،او شاه مو ورته راوړوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ایا نن اهل حدیث هم د اصلاح ضرورت لري؟

اهل حدیث په خپله مصلحین دي،نو د مصلح هم اصلاح کولی شي؟دا لمحه فکریه ده.

د جهاد مطلب دی،کفر او شرک ختمول،د الله کلمه اوچتول،خلک د نیکی د میدان طرفته رابلل،دا د جهاد مقصد دی،او کله چې مونږ خپله د کوتاهی ښکار یو نو څرنګه کولی شو چې د جهاد په لاره کې ووځو،او دا حقیقت تسلیمول پکار دي چې کوم قوم د جهاد څخه وروسته شوی هغه ضرور د نقصاناتو ښکار شوی دی،دا خبره د مشاهدې څخه ثابته ده،چې کله یو قوم د جهاد طرفته توجه کړې ده،هغې خپل هیر شوي شیان رایاد کړي او اصلاح یې پخپله شوې،او د جهاد د پریخودو په وجه په مونږ کې ډیرې خرابیانې راغلي،مثلا زمونږ اهل حدیث د تصویرانو شوقیان ګرځیدلي،د تصویر نه بغیر زمونږ جلسه نامکمله وي،په کومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جلسه کې چې د الله لعنت کیږي ایا هغې کې به برکت پیدا شي؟او ایا دا به د هدایت باعث وګرځي،او پدې کې شریک خلک به بې غیرته وي یا مجاهد؟الله دې پټاسو رحم وکړي دا بیغرتي په مونږ کې د څه وخت نه پیدا شوه چې د دین امانت او د الله معرفت چې زمونږ په سینو کې پروت وو هغه راڅخه واخستلی شو،وس زمونږ څه حال دی،باقاعده ویډیو ګانې جوړیږي،تصویران ایستلی شي،د الله لپاره ووایئ کله چې دا سلسله نه وه نو حالات څنګه وو؟او وس څنګه دي،هغې وختونو کې ایمان وو، وس هغه نشته،هغې کې تقوی وه وس نشته،په هغې کې په الله توکل وو،وس نشته،مونږ د (نوله ما تولی) مصداق وګرځیدو،په دنیا کې خو اصل شرک ددې نه پیدا دی،چې خلک تصویران وباسي،ددې تعظیم وکړي،هار ورته ورواچوي،د شرک اصل بنیاد خو دا دی،نو کوم خلک چې د تصویرانو په شرک باندې راضي دي هغوی به څه جهاد وکړي او انقلاب به څه راولي،دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



عامه جلسه نده،بلکې اجتماع ده،دلته باید مونږ د خپل ځان محاسبه او د غلطیو اصلاح وکړو،سوچ وکړئ،د الله مخامخ به څه جواب ورکوو،ددې نه مخکې چې حساب راسره وشي باید خپل حساب پخپله وکړو،د ځان محاسبه وکړو چې مونږ په څه اخته یو،او بعضې مولیانو خو د تصویر د جواز فتوی هم ورکړې،او د تېې وي په صورت کې یې په خپلو کورونو کې تصویران ایخي چې ښځې سړو ته ګوري او سړي ښځو ته،ایا دا د قران خلاف نده؟

**﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ۚ ذَٰلِكَ أَزْكَىٰ لَهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ﴾**[١]

**ترجمه: "مومنانو سړو او ښځو ته ووایه چې خپل نظرونه ښکته کړي،او د خپلو شرماګاوو حفاظت وکړي،دا د دوی لپاره د**

[١] [سورة النور/٣٠]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکۍ سبب دی،او الله په هغه اعمالو باندې خبردار دی چې تاسو یې کوئ"**

قران صفا ویلي دي خپل نظر ښکته ساتئ،سړي د ښځو څخه او برعکس،او د خپلو نفسونو حفاظت وکړئ،د ۴۵ کاله څخه زه د پنجاب په جلسو کې شرکت کوم،او خلکو به د بیان څخه وروسته مونږ ته دعوت کوو، د هغوی په کورنو کې به یا دا دعا لیکل شوې وه: ﴿**رَبَّنَا ظَلَمْنَا أَنفُسَنَا وَإِن لَّمْ تَغْفِرْ لَنَا وَتَرْحَمْنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الْخَاسِرِينَ**﴾[۲]

**ترجمه: "اې زمونږ ربه مونږ په ځان باندې ظلم کړی،او که ته مو بخشش ونکړې او رحم راباندې ونکړې نو خامخا به تاوانیان وګرځو"**

یا د رسول الله کوم حدیث او یا کوم قراني ایت،نن سبا چې لاړ شې نو چیرته به د سړي تصویر لګول شوی وي،او یا به د

[۲] [الأعراف/۲۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځې،نو حالات بالکل مختلف دي،نن ددې قوم غیرت څه شو؟اسلام دا شیان ختم کړي وو،او د شرک هر قسم دروازه یې بنده کړې وه،او بعضې خلک مونږ ته د شناختي کارډ او پاسپورټ مثالونه بیانوي،الله ته معلومه ده چې ددې لپاره تصویران زمونږ مجبوري ده،دا په شوق سره نه کوو،زه تاسو څخه پوښتنه کوم،ایا دا جلسه د تصویر نه بغیر کامیابه نده روانه؟کله تاسو دومره غټه اجتماع لیدلې ده؟نو دا صفت باید مونږ د خپلو ځانونو څخه وباسو،نور خلک پوهه شه او د هغوی کار،مونږ باید د خپلو اهل حدیثو خیال وساتو،که خپله اصلاح غواړې نو توبه وکړئ چې د نن نه پس به تصویران نه وباسو،او اولنۍ مساله داده چې که د ځان اصلاح غواړې نو د خپل ځان څخه باید شروع وکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمهوریت لعنت

زمونږ بعضو ملګرو (اهل حدیثو) جمهوریت ته اسلام ویلي،او ددې طرفته مایله شوي،او د حیرانتیا خبره ده چې ځان ته یو سړی اهل حدیث وایي هغه څنګه د مغرب نظام د ځان لپاره خوښوي،ایا دا نظام د الله د رسول دی؟ایا دا د خلفاو نظام دی؟ایا د څلور امامانو نظام دی؟د یورپ څخه یو قانون راغلی نو مونږ اختیار کړ،ایا د الله د پیغمبر نظام تاسو ته ناقص ښکاري؟زه ستاسو څخه د یوې نکتې باره کې پوښتنه کوم:

ایا په اسلام کې اپوزیشن شته؟کله چې اسلامي حکومت وي او څوک په مخالف جماعت کې شامل شي نو هغه سره به مونږ څخه کوو؟هر طرفته به جنګ وي او د هغه قتل به واجب وي،او د جمهوریت ددې بحثونو او جګړو، د وجې نه هر شر ته دروازه کولاو شوې،بیا هم د اقتدار وړي د کرسۍ د حصول یو طرفته کوشش کوي او بل خوا پدې بحثونو کې واقع دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زمونږ اهل حدیث په مسجد کې د ټوپۍ پشان دي

حقیقت دادی چې زمونږ اهل حدیث په مسجد کې محدود شوي دي،تاسو به لیدلي وي چې بعضې مسجدونو کې خلکو ټوپۍ ایخي وي،ځکه مولیانو فتوی ورکړې چې ددې نه بغیر مونځ نه کیږي،مسجد ته راشه ټوپۍ واچوه او مونځ ادا کړه،بیا یې وغورځوه او ووځه.

اهل حدیثو وروڼو:

ستاسو مذهب وس ټوپۍ وګرځیده،مسجد ته چې کله راشۍ نو په اوچت اواز سره امین وایۍ،رفع الیدین او په نورو سنتو عمل کوۍ،لیکن د مسجد نه باهر هیڅ پابندي نشته،زه خو اهل حدیث هغه کس ګنړم چې د مسجد په داخل کې هم اهل حدیث وي،په ځنګل کې لرګي کټ کوي هم اهل حدیث،که ایوه کوي هم اهل حدیث،که دکان چلوي هم اهل حدیث،که د قاضي په منصب ناست وي او فیصلې کوي هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل حدیث،د بادشاهۍ په تخت ناست وو هم اهل حدیث،په هر حالت کې باید قران او حدیث مخې ته کیږدي،دا نه چې د مسجد په داخل کې اهل حدیث او باهر سیاست د خپل من مرضۍ مطابق،ایا اسلام د سیاست تعلیم ندې ورکړې؟ایا اسلام مونږ ته ددین لارښوونه نده کړې؟اسلام کې د حکومت د انتظام اوامر نشته؟نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کفر نظام په اسلام باندې تبدیل کړی نه وو؟دا حکومت یې څنګه قایم کړی وو؟د الله له طرفه د ارشاداتو مطابق یې عمل کړی وو،او کامیاب شوی وو،الله ورته فتح ورکړه،حالانکه ټوله دنیا یې خلاف وه او وس هم ده،باطل پرست مولایان،د پیرانو طاقت،او د مالدارو طاقت،ټول د هغه خلاف وو،حالانکه په خپل مینځ کې یې هم سخت اختلاف لره،ځکه د هغوی خیال وو چې که دا کامیاب شي نو د مولا کرسۍ به پاتې نشي،او نه د مالدارو مال،لهذا د مخکې نه دا ختمول پکار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي،لیکن په اخیر کې داسې وخت راغلی چې الله هغه ته کامیابي ورکړه او فتح یې حاصل کړه.

او د الله رسول د صفا په غره باندې ودریده او دا الفاظ یې وویل:**« لا إله إلا الله وحده ، صدق وعده ، ونصر عبده ، وأعز جنده ، وهزم الأحزاب وحده »**

**ترجمه:"بیشکه الله یو دی د هغه نه علاوه بل معبود برحق نشته،هغه د خپل بنده مدد وکړ،او کومه وعده چې یې کړې وه،پوره یې کړه،ټولو ډلو ته یې شکست ورکړ"**

چې زما خلاف وي نو همدا اسلام دی،همدا زموږ مسلک دی،زموږ امام دی،او موږ یې تابعداري کوو،نو ایا دا کیدای شي چې اسلام په څه باندې لعنت ویلی هغه موږ اختیار کړو؟او د الله د رسول دشمنانو چې کوم نظام راکړی هغه انتخاب کړو؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



وس ددین دعوی کونکی یو جماعت داسې دی چې مخکې وخت کې به یې ووټ اچولو ته کفر ویل،وروسته یې فتوی صادره کړه چې دا د وخت تقاضا او ضرورت دی لهذا وس ووټ اچول او انتخابات جایز دي،او دا ټول خباثتونه یې شروع کړل،کومو کې چې دنیاوي پارټیانې اخته دي،او د جماعت ټول کارکنان ددوی تابعدار وګرځیدل.

او مقلد همدې ته وایي چې د امام په هره خبره عمل وکړي که صحیح وه او که خطا،او هیڅ تمیز نه کوي،او څوک چې د امام غلطه خبره ترک کړي او په صحیح عمل وکړي،ده ته مقلد نه ویل کیږي،لیکن دوی چې فتوی واوریده چې انتخابات حرام دي نو فورا یې عمل وکړ،حالانکه په دواړه فتوو کې تضاد دی،یوه خبره خو به غلطه وي،دواړه څرنګه صحیح ګرځیدلی شي؟کوم نظام کې چې یو کس خپله د خلکو څخه ووټ او عهده غواړي او خلک په مختلفو جماعتونو تقسیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي،د مسلمانانو مالونه پدې فضولیاتو باندې صرف شي نو دا څنګه صحیح نظام کیدلی شي؟

نو زما وروڼو دا د قران او حدیث تعلیمات ندي،قران او سنت خو د خلافت د قایمولو امر کړی،د مسلمانونو د یو امیر تقرر کولی شي،او د هغه د امارت ما تحت ټول معاملات مخ په وړاندې ځي،او خلیفه ته هم ددې امر شوی چې پیغمبر ته ویلی شوي چې د خپلو ملګرو سره مشوره کوه﴿**وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ**﴾[3]

**ترجمه: ”ددوی سره مشوره کوه،او کله چې تا پخه اراده وکړه،نو په الله توکل کوه،او په الله توکل کوه،بیشکه الله د متوکلینو سره مینه کوي. “**

[3] [ال عمران/۱۵۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکن فیصله به په څه کوي؟ایا د ملک په رواج باندې؟یا د خلکو د اکثریت په بنا باندې،الله وفرمایل:چې کله ته د یو کار عزم او اراده وکړې نو په الله توکل وکړه،او بیا فیصله کوه،او د پیغمبر عزم به په څه باندې وي؟کومه خبرې چې وحې کې راغلي وي د هغې عزم به کوي،نو معلومه شوه چې د فیصلو معیار قران او سنت دی،او په جمهوریت کې دا خبره نشته،ځکه پدې کې د اکثریت په بنا فیصله کولی شي،او قران په هر ځای کې د اکثریت تردید کړی.

**﴿وَأَكْثَرُهُمْ لَا يَعْقِلُونَ﴾**

**ترجمه: "اکثر خلك د عقل څخه کار نه اخلي."**

**﴿وَأَكْثَرُهُمْ فَاسِقُونَ﴾**

**ترجمه: "أکثر خلك فاسقان دي."**

**﴿إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَقَلِيلٌ مَّا هُمْ﴾**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه: ”مگر هغه کسان چې مومنان دي او نيک اعمال کوي او دا ډير لګ خلک دي. “**

**﴿وَإِن تُطِعْ أَكْثَرَ مَن فِي الْأَرْضِ يُضِلُّوكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ﴾[٤]**

**ترجمه: ”که ته په دنيا کې د ډيرو خلکو تابعداري وکړې نو د الله د لارې څخه به دې ګمراه کړي. “**

ځکه د اکثرو خلکو خبرې هيڅ ثبوت نلري،بلکې هغوی په دروغو او تخمين باندې خبرې کوي،لهذا په اکثريت باندې اعتماد ندې پکار،بلکې د قران او سنت مطابق فيصله پکار ده،نو ر خلک لکه احناف وغيره چې مخکې به يې د جمهوريت خلاف تقريرونه کول او وس يې په حمايت کې کلک ولاړ دي،د هغوی پرواه نشته،خو زه دې اهل حديثو ته حيران يم،پدوی باندې څه تندر راپريوتی،او ماته ياد دي چې يو وخت کې د ټولو نه مخکې اهل حديثو د جمهوريت خلاف

[٤] [الأنعام/١١٦]

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وو،او په کلکه یې تردید کړی وو چې دا کفر دی،نو نن ځرنګه جمهوریت عین اسلام وګرځیده.

زما دوستانو ددې خرافاتو څخه ځان وساتئ،الله تاسو ته د سوچ او تدبر موقع درکړې،په خپل مینځ کې متحد شئ،ددې ټولو اساس حسد ،اختلاف او کینه ده.

د جمهوریت د نظام تعلیمات دادي چې د یو بل خلاف قتل او غارت او سازشونه وشي،نو ایا دا د ثواب کار دی؟ایا دا د اهل حدیثو د شان سره لایق دی؟د الله لپاره فیصله وکړئ،ایا دا د اهل حدیثو صفت دی؟هیڅکله نه،نو بیا ولې دداسې کار ارتکاب کوئ چې د ټولو بدیو مجموعه ده؟دروغ پدې کې،مبالغه او بې ځاي تنقید،حسد،کینه،یو بل کټ کول،منافقانه رویه،د جمهوریت اساسیات دي،سیاسیت او قیادت هیڅ اسلامي ندی،دا هغه نظام ندی،چې د الله رسول او صحابه وو پیش کړی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اهل حدیثو وروڼو:کم از کم تاسو ددې څخه اجتناب وکړئ،ستاسو اصلاح ددې څخه په بچ کیدو کې ده،کوم نظام چې د الله پیغمبر قایم کړی وو،ایا تاسو هغه ترک کوئ او بل نظام ته مایله یاست،دا نظام خو په کنځلو،د یو بل خلاف مضمون لیکلو،او د گناه په کارونو مشتمل دی،نو ایا دا امور په اسلام کې جایز دي؟لیکن مونږ دا جایز گڼرو.بیا مونږ ته وایي نو تاسو بل حل راوباسئ

زه وایم:دا جدا خبره ده چې مونږ سره بل متبادل حل شته یا نه؟د ټولو نه مخکې خو تاسو ددې څخه انکار وکړئ،بیا د صحیح شي مطالبه وکړئ،د لا اله الا الله مطلب دی چې د الله نه علاوه بل معبود برحق نشته،نو ایا مشرک او هندوان الله نه مني،ستاسو د هغوی په منلو کې بیا څه فرق دی؟په تاسو او هغو کې فرق دادی چې اول د غیر الله څخه انکار وکړی،او بیا د هغه د وحدانیت اقرار،لهذا تاسو د غلطو عقایدو نفی وکړئ،نو مسله به خپله حل شي،الله به څه لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوباسي،البته که تاسو پدې منهج استمرار وکړی،او دا د اهل حدیثو منهج وګنړی،نو دا بالکل صحیح نده،زما وروڼو دا بد صفات په مونږ کې ولې پیدا شوي دي؟ځکه مونږ د الله په لاره کې جهاد ترک کړی دی،کله چې یو قوم په سنت باندې عمل پریدې نو الله هغوی په بدعاتو مبتلا کوي،او کله چې یو قوم کې بدعات او خرافات پیدا شي نو الله د هغوی څخه د سنت نعمت جذب کړي،کله چې تاسو د جمهوریت بدعت انتخاب کړی دی نو الله تاسو څخه د خلافت سنت اغستی دی،او که وس هم تاسو په خپله خطآ باندې اعتراف وکړی نو الله به ضرور د حل لاره راوښايي،او تاسو ګوری چې د څو کلنو څخه مونږ دا خبره کوو چې د جمهوریت نظام صحیح ندی او ډیر ملګري پدې دعوت باندې پوهه شول الحمدلله،دا د حرکت برکت دی،او ان شا الله تاسو به وګوری چې هر کال به پدې تعداد کې الله اضافه پیدا کوي،پدې شرط سره چې مونږ ځان کې اخلاص پیدا کړو،زمونږ هیڅ لالچ نشته، نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا څخه د ووټ مطالبه کوو،نه د کرسۍ شوق لرو،او څوک چې د جمهوریت په نظام کې شامل شوي د هغوی همدا کار او سوچ وي،چې ووټ به څنګه میلاویږي او کرسۍ به څنګه حاصله کړو،د کرسۍ د حصول لپاره هر څه ته تیار وي که دروغ ویل وي، که ناجایز کارونه،ستاسو د حسد او کینې سبب همدا بدترین نظام دی،وس ستاسو خلاف کتابونه لیکل کیږي چې اهل حدیث دا کوي،په یو بل باندې حملې شروع دي،که اسلامي خلافت نافذ شي نو دا هر څه به ختم شي،تاسو به ورونه ورونه شۍ،داحسد، کینه،او دهوکه،ستاسو د مذهب خلاف دي،او ددې ټولو شیانو ازاله او ختمولو ته جهاد وایي، کله چې تاسو جهاد پریخوده نو ستاسو په درمیان کې یې اختلاف پیدا کړ،دا نظام د جنګ پیدا کولو والا دی،اختلافات اچولو والا دی،البته کوم مجاهدین چې جهاد کې مصروف وو هغوی سره د کرسۍ او عهدې هیڅ فکر نه وو،ځکه د هغو مقصد صرف دا وو چې د الله څخه ویره،او چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ناراضه نشي،مجاهد همیشه د الله د رضا امید ساتي،هغه غواړي چې الله په ما باندې غصه ونکړي،یعني د هر قسم قربانۍ باوجود هم هغه د الله څخه په ویره کې وي،هغه د الله په خاطر د هغه ددین د سربلندۍ لپاره جنګیږي:

**﴿يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ﴾[٥]**

**ترجمه: "دوی د الله په لار کې قتال کوي نو دوی نور قتلوي او دوی هم شهیدان ګرځي. "**

[٥] [التوبة/١١١]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿فَالَّذِينَ هَاجَرُواْ وَأُخْرِجُواْ مِن دِيَارِهِمْ وَأُوذُواْ فِي سَبِيلِي وَقَاتَلُواْ وَقُتِلُواْ﴾[٦]**

**ترجمه: "هغه کسان چې د الله په لاره کې هجرت یې کړی او د کورونو څخه ویستل شوي،او زما په لاره کې ورته تکالیف میلاو شوې،او قتال یې کړې او شهیدان شوي. "**

نو تاسو د الله طرفته واپس شئ،تاسو د الله نظام پریخی دی،نو ټول نقصانات پیدا شوي،لهذا د جهاد لاره اختیار کړئ،دا بد صفات به ټول پخپله ختم شي.

[٦] [ال عمران/١٩٥]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خپلو مونځونو د اصلاح سخت ضرورت دی

بیا تاسو اعمالو طرفته توجه وکړئ،په عملونو کې د ټولو نه مخکې مونځ دی،زه علماو ته وایم:د الله لپاره د احادیثو مطالعه وکړئ،څنګه چې به رسول الله مونځ ادا کوو ایا زمونږ مونځ د هغه پشان دی،په مونځ کې د ودریدو مساله واخله،حدیث کې حکم شوی چې د ټخنی سره به ټخنه میلاوو،او مونږ څه کوو؟کله چې رکوع ته لاړ شو نو بیا یو بل ته ښپه ورنژدې کړو،دا د چا طریقه ده د ودریدو،مونږ حقیقیت پریخودی دی،په هر کار کې کوشش کوو،چې حکومت راضي کړو،یا یو مالداره سړی راځخه راضي شي،لیکن کله چې یو کس د الله لپاره میدان ته داخل شي نو باید د هیچا پرواه ونکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿مَّا جَعَلَ اللَّهُ لِرَجُلٍ مِّن قَلْبَيْنِ فِي جَوْفِهِ﴾**[۷]

**ترجمه: ″الله د یو کس په سینه کې دوه زړونه ندي پیدا کړي.**

د چا زړه چې د الله څخه ویریږي نو د نورو خلکو یره یې ختمه شي،څومره چې په الله باندې امید زیات شي نو د خلکو څخه امید کمیږي،او څومره چې د هغه سره په محبت کې اضافه راشي د مخلوق محبت د زړه څخه ووځي.

**﴿وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِّلَّهِ﴾**[۸]

**ترجمه: ″او مومنان د الله سره ډیره مینه لري. ″**

همدارنګه په مونځ کې نور هم خامیانې شته،پدې کم وخت کې زه طاقت نلرم چې بیان یې کړم،صرف دومره خبره کوم،چې خلکو ته باید بیان کړو چې د الله رسول به څنګه مونځ ادا کوو،مونږ خو داسې ګرځو ګویا چې خیبر مو فتح

---

۷ [الأحزاب/٤]

۸ [البقرة/١٦٥]

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی دی،د هغه قیام او قعده او جلسه به ثرنگه وه،د امام اطاعت په کومو امورو کې پکار دی،ځکه بعضې خلک د امام د الله اکبر سره د هغه نه مخکې په سجده پراته وي،نو دا د چا سنت دی،صحابه وايي:څو پورې چې به رسول الله ولاړ وو،نو مونږ کې به چا د ښکته کیدو کوشش نه کوو،کله چې به هغه سجدې ته لاړی نو بیا به مونږ ښکته شو.

اهل حدیثو:تاسو دعوی کوئ،چې د الله رسول زمونږ قاید دی،هغه زمونږ مرشد او رهنما دی،نو پدې مسایلو کې مو د هغه تابعداري ولې ترک کړې ده،لهذا زه علماو ته درخواست کوم،چې یوه کمیټې د خلکو د مونځ د اصلاح لپاره قایمه کړئ،چې دوی ته د مونځ د ابوابو تعلیم ورکړي،درانگه مونږ گورو چې په اهل حدیثو کې دروغ،حسد،او غیبت عام شوي،حالانکه دا زمونږ مسلک ندی او اسلام هم ددې څخه په کلکه سره منع کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله بنده ګانو،خپله اصلاح وکړئ،د یو بل سره حسدونه مه کوئ،بلکې محبت کوئ،په اخلاقو سره معامله کوئ،او د یو بل احترام وکړئ،دا د اسلام هدایات دي،او نبي صلی الله علیه وسلم فرمايي:**«لا تدخلوا الجنَّةَ حتَّى تؤمنوا ولا تؤمنوا حتَّى تحابُّوا»**[٩]

**ترجمه: "پتاسو کې هیڅوک جنت ته نشي داخلیدلی تر څو چې ایمان قبول نکړي،او ایمان تر هغه پورې نه مکمل کیږي تر څو چې د یو بل سره مینه ونکړی."**

نو د اختلاف په سبب محبت نشي راتلی او چې محبت نه وي نو ایمان به هم نه وي.

قران هم دا بیان کړی چې تاسو ټول لکه د وروڼو زندګي تیروئ:

[٩] [صحیح مسلم/رقم الحدیث ٥٤]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**﴿إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ فَأَصْلِحُوا بَيْنَ أَخَوَيْكُمْ ۚ وَاتَّقُوا اللَّهَ لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾**[١٠]

**ترجمه: ”بيشک مومنان د يو بل ورونه دي،نو د خپلو مابين کې اصلاح کوئ،او د الله نه ويره کوئ،کيدای شي تاسو باندې رحم وشي. “**

او نبي کريم صلى الله عليه وسلم فرمايي:**« أَلَا لَا فَضْلَ لِعَرَبِيٍّ عَلَى أَعْجَمِيٍّ وَلَا لِعَجَمِيٍّ عَلَى عَرَبِيٍّ وَلَا لِأَحْمَرَ عَلَى أَسْوَدَ وَلَا أَسْوَدَ عَلَى أَحْمَرَ إِلَّا بِالتَّقْوَى ، أَبَلَّغْتُ ؟ ) قَالُوا : بَلَّغَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.»** [١١]

**ترجمه:”د عرب په عجم باندې او د عجم په عرب باندې او د سور په تور باندې او د تور په سپين باندې څه فوقيت نشته مگر په تقوى سره“**

[١٠] [الحجرات ١٠]

[١١] [تخريج زاد المعادالصفحة أو الرقم: ١٤٢/٥ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقوی څخه خپل زینت جوړ کړئ،نو ان شاالله الله به زمونږ جماعت ته هغه شان رعب داب ورکړي لکه صحابه و ته چې یې ورکړی وو،لهذا د الله لپاره زه تاسو ته نصحیت کوم، چې کار هم کوئ او د یو بل سره حسد مه کوئ،

نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي:**« كلُّ المسلِمِ على المسلِمِ حرامٌ ، دمُهُ ، ومالُهُ ، وعِرضُهُ»**[۱۲]

**ترجمه: ”د هر مسلمان مال عزت او وینه په بل باندې حرامه ده. “**

که نه وي نو الله به مو ټول اعمال برباد کړي،ستاسو رفع الیدین به هیڅ فایده ونکړي،نه په زوره امین ویل،زما وروڼو سوچ وکړئ،کله چې ځان ته اهل حدیث وایې نو د اهل حدیثو صفات ځان کې خامخا راولئ.

۱۲ [صحیح ابن حبان الصفحة أو الرقم: ۱۷۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما ورونو:د جهاد په واسطه مونږ د غیر الله څخه انکار کولی شو،د جهاد په وجه توحید قایمولی شو،کله چې مونږ دا لاره پریخې نو ډیر معبودان پیدا شوي،دربارونه جوړ شوي،په سلو کې یو کس دا مني چې که تاسو ټول جهاد ته وتلی وی نو په یو څو کلونو کې به د ټولې دنیا نظام تبدیل شوی وی،په بیت الله کې څومره بوتان وو،نبي صلی الله علیه وسلم خلکو ته د توحید دعوت وکړ،په مکه او مدینه کې،کله چې دعوت ټولې دنیا ته ورسیده نو هلته یې پخپل لاس ټول بوتان مات کړل،ایا تاسو دا کار نشی کولی،تاسو جهاد ترک کړی نو الله پتاسو نو اقوام مسلط کړي،حالانکه مونږ صرف د الله غلامان وو،ځکه اهل حدیث د الله نه علاوه د چا بنده نشي کیداي،د چا غلام نشي جوړیدای د هغه امید سره د الله څخه وابسته وي،د الله نه علاوه د بل چا څخه خوف نه کوي،لیکن افسوس اهل حدیثو جهاد پریخوده نو شیطان خپل ډیر معبودان ددی مخامخ ودرول،دربارونه وینځل کیږي،حلوی ګانې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پخیږې،دا ټول څه دي؟دا د جهاد د نه کولو د وجې په مونږ مصیبت راغلی،وس سوچ وکړئ الله چې د جهاد کوم نعمت تاسو ته درکړی وو،د هغې د تعمیل لپاره میدان ته راشئ،دا هر څه به ختم شي،ددروغو معبودان به تباه شي،څومره چې فتنې دي،جنګ،فساد،دروغ،شراب،لواطت،ددې ټولو علاج صرف جهاد دی.

الله فرمایلي د هغوی سره جنګ جاري ساتئ،تر څو پورې چې هغو د یو الله عبادت شروع کړي،او اخرت باندې یقین وکړي،او حلال ته حلال او حرام ته حرام ووایي.

وس په دنیا کې د سود نظام موجود دی،دا په تقریرونو نه ختمیږي،بلکې جهاد ددې بهترین حل دی،الله فرمایي: ﴿ **وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ۚ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ**﴾[۱۳]

---

[۱۳] [الأنفال/۳۹]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ترجمه: ”د هغوی سره قتال وکړئ،تر دې چې فتنه پاتې نشي،او ټول دین د الله لپاره شي،که دوی منع شول،نو الله ددوی په عملونو بصیر دی. “**

**﴿ فَإِن تَابُوا وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ فَخَلُّوا سَبِيلَهُمْ﴾[١٤]**

**ترجمه: ”که دوی توبه وکړه،او مونځ قایم کړي،زکات ورکړي،نو ددوی سره جنګ مه کوی. “**

په حدیث کې راغلي دي:چې د هر نبي سره حورایان وي،چې د هغه په سنت باندې عمل کوي،او وروسته به څه خلک پیدا شي چې نوې کارونه به پیدا کړي،ځکه کله چې جهاد وو نو د ټولو بدیو دروازه بنده وه،نه په عقیدې کې خامي وه او نه په اخلاقو او اعمالو کې لیکن د هغې د پریخودو په وجه دا ټولې فتنې رونما شوې،او وس ددې دروازې بندول زمونږ لپاره مشکل شو.

[١٤] [التوبة/٥]

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما وروڼو:تاسو مصلحان یۍ،ستاسو کار دی چې مونږ درست کړئ،په قران او حدیث باندې تمسک وکړئ،ددې مطابق خلکو ته دعوت،که د جهاد لپاره تیار شئ،نو ستاسو په لاس به الله د ډیرو فتنو خاتمه وکړي،لیکن که تاسو بزدلي کوۍ نو د بل چا کار ندی چې ویي کړي،دا ستاسو مسوولیت دی،هغوۍ پوهه شه او کار یي،تاسو یوه دعوی کړې چې مونږ د الله د رسول جماعت یو،نو بیا صبر ولې کوۍ؟ستاسو غیر څه شو،د الله څخه دعا وکړئ چې مونږ ته د جهاد توفیق راکړي،ددې جذبه زمونږ په زړه کې پیدا کړي،د شرک بدعت،لادینیت،او هر قسم بد صفاتو خلاف هله ممکن دی چې مونږ صحیح مجاهدین جوړ شو.

واخر دعوانا أن الحمدلله رب العالمین.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**